# د سرخکانو د دانی د محافظت او مخنیوي قانون په اړه د والدینو لپاره معلومات ، چې د مارچ 2020 څخه وروسته د اعتبار وړ دي.

د ټولو نارینه او ښځینه زده کونکو او ماشومانو لپاره په ورکتون یا هم د روزانه مراقبت په مرکز کی،

ګرانو ښاغلو او اغلو،

د 2020 کال د مارچ له لومړۍ نیټې څخه به د سرخکان د تخمونو د ساتنې او محافظت لپاره نوی قانون پلي شي. دا قانون ټول نارینه او ښځینه زده کونکی ، او ماشومان مکلف کوی چې د سرخکانو د دانی د واکسین سند په ورکتون یا ورځني مراقبت او پاملرنی په مرکز کې د ورکتون ریس ته یا د ورکتون کارکوونکي یا ښوونکي ته وړاندې کړي (د سرخکانو د دانی د محافظت او پاملرنې د قانون د 20 مادی د 8 او 9 پراګراف د اولی جملیپر بنست). دا تصدیق د لاندې سندونو په وړاندې کولو سره ترسره کیدی شي:

1- د واکسین اسناد (د واکسین کتابچه) یا د ډاکټر له خوا نه کوم سند چی وښیي چې واکسین د سرخکان پر وړاندې ترسره شوی؛

2- د داکتر له خوا نه کوم سند چی تصدیق کری چ د سرخکان پر وراندی مصونیت وجود لری

3- د ډاکټر له خوا نه کوم سند ، کوم چې تایید کری ، چی د طبي دلایلو له امله واکسین نشي عملی کیدلی (د واکسین ضد لاملونه)؛

4- د یوې دولتي ادارې یا نورو دفترونو تصدیق ، چیرې چې دمخه یو سند وړاندې شوی.

هغه اسناد چې په آلمانی ژبه باندی ندي یا داسې اسناد چې په ښکاره ډول د واکسین دریځ نه څرګندوي اړتیا نلري تایید شي.

<u>ورکتون او د ماشومانو د ساتنی مرکز:</u>

په ورکتون کې د ماشومانو لپاره یا د ورځې پاملرنې په مرکز کې د ماشومانو لپاره لاندې اړتیاوې هره ورځ پوره کیږي:

- ماشومان ، چې لږترلږه دوه کلن دي ، باید د سرخکان دوه واکسینونه یا د سرخکان پر وړاندې د بدن مناسب معافیت ثابت کړي. ماشومان ، چې لږترلږه یو کلن دي ، باید د سرخکان یو واکسین یا د سرخکان پر وړاندې د بدن مناسب معافیت ثابت کړي.
- د یو کال څخه کم عمر لرونکي ماشومان کولی شي پرته د کوم سند څخه داخل شي.

د ورکتون اداره اړتیا لري چې د دوه کالو څخه کم عمر لرونکي ماشومانو لپاره سمدلاسه د ولسوالۍ د عامې روغتیا له دفتر سره اړیکه ونیسي ، په دې شرط چې د واکسین بشپړ اسناد نه وي ورکړل شوي یا هم کله چی اسناد له تاکل شوی مودی نه وروسته راورل شوی وی.

بیا د روغتیا څانګه کولی شي تاسو ته د مشورې لپاره بلنه درکړي او تاسو څخه به غوښتنه وکړي چې د سرخکان په وړاندې د واکسین اسناد بشپړ کړي. د روغتیا څانګه د ضرورت پر بنست ستاسو ماشوم د ماشوم له څارنې له مرکز نه هم منع کولای شي.

د هغو ماشومانو لپاره چې د 2020 کال د مارچ د 1 تاریخ له مخکی یی په ورکتون کی پاملرنه شوی، د 2021 کال د جولای د میاشتی تر 31 تاریخ پوری نور هم وخت لري

ښوونځی:

هغه نارینه او ښځینه زده کونکي چې د 2020 کال د مارچ له لومړۍ نیټې څخه ښوونځي ته داخل کیږی باید د ښوونځي مدیر یا مدیره ته د معافیت یا مناسب واکسین کولو یا د واکسیناسیون برداشت نه کولو سند وړاندې کړي (کوم چې په طبي لحاظ ثابت شوی وی).

هغه نارینه او ښځینه زده کونکي چېد 2020 کال د مارچ له لومړۍ نیټې نه مخکی په ښوونځي کې روزل شامل شوی وو، باید دا اړونده ثبوت د 2021 کال د جولای د میاشتی د 31 تاریخ پورې وسپاري.

هغه نارینه او ښځینه زده کونکي چې د ټاکلي نیټې سره سم شواهد نه وړاندې کوي د ښوونځي مدیر یا مدیره باید د ولسوالۍ روغتیا ریاست ته راپور ورکړي.

د نورو معلوماتو لپاره ، مهرباني وکړئ د ښوونځي ، د ورځې پاملرنې مرکز یا د ماشوم ورځنۍ پاملرنې کارمند سره اړیکه ونیسئ. په لاندی ویبسایت کی هم https://www.masernschutz.de/ کې د سرخکان د محافظت د قانون په اړه هم پراخه معلومات شتون لري.

Trotz sorgfältiger Prüfung sind Irrtümer nicht ausgeschlossen, daher übernimmt dolpäp keine Garantie oder Haftung für die Richtigkeit oder Vollständigkeit des Inhaltes.
www.dolpaep.de